یو وائي چي خدایه داحد جنګ دي ماته ددي توفیق راکړه چي یوه پیرکافران زما په لاس په قتل ورسیږي اوبیا پاي کي زه روغ رمټ اوسالم دکافي غنیمتونو سره بیرته راوګرځم بل ورته آمین ووېل دوېم نوبت راورسید هغه وېل چي خدایه ماته ددي توفیق راکړي چي سبادجنګ په میدان کي پیرکافران زما په لاس په قتل ورسیږي خوپه پاي کي زه په شهادت ورسیږم بیامي جسد کافرانو ته په لاس ورشي هغه مي مثله کړي لاس مي قطع کړي پښي مي بري کړي سترګي مي وباسي غوږونه مي قطع کړي ترڅوچي کله زه دقیامت په ورځ ستا په وړاندي ودریږم اوته له ماته تپوس کوي چي سترګي د ي چیرته دي زه وایم خدایه دامي ستا په لاره کي قرباني کړي ، ته رانه تپوس کوي چي لاس اوپښې دي چیري دي اوزه وایم خدایه دا ستا په لارکي قطع شوي دي ته رانه تپوس کوي چي غوږونه دي ولي بري شوي او زه وایم خدایه دا ستا په لاره کي قطع شوي بل ورته آمین وایي . سبا نه جنګ پیل کیږي دجنګ په پاي یك دا لومړي کس چي دعایي منل شوي کافي شمیر کافر د هغه په لاس په قتل رسیدلي اوډیرو غنیمتونو سره روغ رمټ راګرځیدلي وایي چي زما دعا خوالله منله وګورم چي زماددي بل ورور سره څه معامله شوي ده ځي دجنګ میدان ته خپل هغه صحابي ورور لټوي اوناڅاپي په یوځای سترګي تښتلي چي ګوري ګڼ شمیرکافران پراته دي اودهغو په مینځ کي هغه صحابي پروت دي چي پرون یې دعا کړې وه چي دده په لاس دي ګڼ شمیر کافران په قتل ورسیږي بیادي هغه شهید شي کتل یې چي همداسي مثله شوي لاس پښې یې قطع دي سترګي یې کافرانو ایستلي دي غوږونه اوبزه یې پرې کړي هغه چي دا صحنه ولیده ویلي چي کاش ماهم همدا دعا کړې واي او زما اورور ترمانه غوره اوبهتره دي له هغه سره دهغه ارمان وو چي کاش دي هم د خدای په لاره کي په شهادت رسیلي وي هغه چي په شهادت رسیدلي په هغه باندي غلبه کوي.

همداشان ورونو چي کله به هم ددوي نه کوم یومجروح شو اویه دي پوهیده چي ددي زخم نه به مري نو هغه به قسم یاداوه چي زه کامیاب شوم خپل مرام اومقصد ته ورسیدم هغوي به ویل په الله دکعبې زما قسم دي چي زه کامیاب شوم دکعبې په خداي اورب دي زما قسم وي چي زه کامیاب یم هغوي دخداي په لاره کي شهادت لویه کامیابي ګڼله ځکه چي قران شهیدانوته کامیاب ویلي.

زاهد صاحب اودهغه کورنۍ ددي تحریك د لمړیو افرادو څخه دي ددوي کوردتحریك په لمړیوشپوورځوکي دمجاهدینو مرکز وو هغه دلمړیو دعوت ګرانو څخه دي دلمړیو مهاجرینو څخه اودلمړیومجاهدینو څخه هغه زموږ ددي جهاد ستر قهرمان وو مغسي شخصیت چي دهغه په شان پیرکم په دي انقلاب کي روزل شوي په دین پوه وو دجهاد دستري روحیي سره هغه دخپل ژوند اکثربرخه په سنګرونوکي تیره کړي . په دفترکي هغه ماموریت ندي کړي هغه دحزب اسلامي دننګرهارولایت دجهاد امیر وو ددغسي شخصیتونو خالي ځاي ډکول ګران کاردي په دي غمجن نه یوچي هغه ته الله (ج) دشهادت مقام ورکړ دا مقام دي هغه ته مبارك وي دا سترسعادت دي دشهادت لپاره الله شهدا په خپله انتخابوي وینخذمنکم شهدا.

الله (ج) دمسلمانانو دجملي نه شهدا په خپله انتخابوي دا مقام هغه چاته ورکوي چي وړاندي پیررو کړي بي مونږ غمجن په د ي وجي دهغه خالي ځاي به څوك ډکوي خداي ج) نه موامید دي په الله مو بروسه ده چي ددغوقهرمانو شهداؤ خالي ځاي به خالي نه پاته کیږي الله ددي دمه وار دي چي دهغو ځایو نه به په مخلصو اوصالحواومؤمنومجاهدینو ډکوي .

زما ورونو ! دجاچي په الله باور وي په آخرت یې یقین وي دمرګ نه بعد په ژوندون باور لري هغه نه یوازي دمرګ نه نه ویریږي بلکي دخداي په لاره کي شهادت دهغه ترټولو ستره تمنا وي په نصرت باندي باوراودهغه په نسبت کفر او انکار دانسان په شخصیت کي پیر سخت تاثیرلري. څوك چي په اخرت ایمان لري هغه له مرګ نه نه ویریږي هغه دنیا پرست نه وي حریص اوطماع نشوي دستونځو، کړاوونو، محرومیتونو اومحاصري په دوران کي مایوس کیږي نه ،هغه تل دخپل عمل محصول اوقطعي پاداش ته امید واروي هغه په خپلي کامیابي یقین اوباور لري په دي پاړه وي چي ددنیا هیڅ طاقت دده دکامیابي مخه نشي نیولي ځکه دهغه معامله له خداي سره ده هغه الله چي خبیراوبصیرد ي هغه دخپل اخروي سعادت له پاره جنګیږي که په دنیا کي دهر پیش آمد اوپیښي سره مخامخ شي واره اومطمئن دي هغه دناکامي احساس نه کوي.

اماڅوك چي په اخرت باور اویقین نه لري هغه به دمرګ نه ویره لري حریص اوطماع به وي دمعمولي پیښي نه به پیر مایوسه کیږي اوچي کله هم دمشکلاتو ستونځو اوشکستونو سره مخامخ شي نوهغه دمخکي تلو اراده اوعزم له لاسه ورکوي څوهغه کسان چي په دي باوردي چي دامرګ دژوند پاي نه دي بلکي ددوي ژوندون شروع اوپیل د ي هغه دمرګ له لاري دائیمي اوهمیشګي ژوند طرف ته دروسي دا دهغه ژوندون طرف ته یو منفذ د ي چي پاي نه لري دامرګ هغه له خپل معبود محبوب رب سره یوځاي کوي دا دخداي طرف ته دتګ لاره هغه په دي یقین لري چي دمرګ نیټه معین ده اودمخي نه ټاکل شوي هغه بدلیږي نه بلکه څنګه چي انسان دخداي (ج) په اراده دنیا ته راځي دالله (ج) په اراده له دنیا نه دروسي دهغه دمرګ نیټه هم ټاکل شوي او مرجع هم ،هغه ځاي چي په ایږ پریوځي اوخپل روح امانت خداي ته تسلیموي دا دواړه مخکي دمخکي نه ټاکل شوي چیرته چي به دانسان ویني تویږي چیرته چي به روح امانت خداي ته تسلیموي چیرته چي به ملائك دهغه دروح قبضولو لپاره ورته راځي دغه هغه ځاي خداي (ج) مخکي له مخکي نه ټاکلي اودالیکل شوي اودا چل نیټه اووقت هم مخکي له مخکي ټاکل شوي دا نه بدلیږي . الله فرمایي : نه شایي یو نفس لره چي ومري مګر دخداي په اذن اوحکم سره اولیکل شوي نیټي سره دانیټه تعین شوي بیا لیکل شوي اویه هغه وخت کي چي دانسان روح قبضیږي الله امرکوي دانسان مرګ دګمکي په سر الله (ج) چاته ندي سپارلي الله دي چي دمرګ اوژوند فیصله کوي الله (ج) هغه ذات دي چي دژوند او دمرګ فیصلي کوي قرآن دیومختصرآیت په ترڅ کي په دي باب عجیب وضاحت کوي فرمایي.

اي خلکوکه دي بیاژوندون اوبعثت په هکله شك لري نویقیناً چي مونږ له خاوري پیداکړي یاست که تاسو سره داشك وي چي انسان مري اوجسد یې په خاوروکي تجزیه شي په خاورو بدل شي هغه به څنګه بیرته ژوندي کیږي نه .ګوري چي الله تاسي له خاوري نه پیداکړي یې ستاسي ابتدایي پیدایښت هم دخاورو ؤ اوداهره ورځ ستا سو نطفه دخاورو نه جوړیږي.

پس یقیناً چي مونږ تاسي دخاوري نه پیداکړي یي همداداته اومیوه چي دخاوري نه جوړیږي هغه ستاسو په جسد کي به نطفي بدلیږي دهمدغي خاوري نه الله تاسي پیداکړي یې څنګه په دي باب شکمن یې چي انسان یوګل ومري بیاځي جسد توټې توټې شي تجزیه شي په خاوروبدل شي.

هغه به څنګه دوباره ژوندي کیږي نه ګوري چي ستا ابتدایي پیدایښت هم دآدم علیه السلام خلقت هم دخاوري نه وو نه وي الله (ج) له خاوري نه پیداکړي اوبیاداهره ورځ دانسان نطفه دهمدغي خاوري نه الله (ج) پیداکوي بیادانطفه په علقه بدله شي د متجمدي وینې په شان بیادبوي ټوټي دغوښي نه لکه چي په غابن چیچل شوي وي چي هغه دګیني غیرخلقت مکمل شوي وي خلقت یې پاي ته رسیدلي وي تکمیل شوي وي اودګینو نورو دا روان وي نه وي تکمیل شوي بیایي نوده مورله رحم نه آزادي دنیاته دیوطفل په شان راباسي ګوري لکه چي دانسان په پیدایښت کي له یوي دنیا نه بلي دنیا ته تګ دي دغسي به یې له دي دنیا نه هم بلي دنیا ته تګ وي . بیا طفل په شان تاسي دنیا ته راباسي بیا الله (ج) ستاسو روزنه اوتربیت کوي ترڅو چي تاسوخپل قوت کمال ته ورسیږي ځواني ته د قوت اخري مداراومعراج ته اوله تاسو نه ځني هغه دي چي دهغوي روح قبض کیږي وفات کوي څوك دنطفي په حالت کي څوك دمدغي ،علقي په حالت کي څوك دطفل په شان څوك د ځواني په مرحله کي څوك له دي نه دمخه مري اوځیني نور دخپل عمرترټولو بدترحالت ته خداي ساتي هغه اصل چي بیا دنوروداوریدني شي دا مختلف مراحل پخپله ثابتوي چي دلته انسان دیو ذات ارادي محکوم دي دیودنیا نه بلي دنیا ته تګ له نیست نه هست کیدل له خاوري نه په یو ژوندي شي بدلیدل ،بیاانسان نه غواړي چي په مرګ دي محکوم شوي وي چاراوناچار هغه ته محتاج دي نه غواړي چي دژوند هغه مرحلې نه دي ورسیږي چي دنورو داوریدني شي علم اویوهه له لاسه ورکړي دماشوم په شان دي په نورو متکي شي ولي چاراوناچار باید دي ارادي ته تسلیم وي.

لکه څنګه چي دانسان په پیدائښت کي دامختلف مراحل ګوري همدغسي مخکي نه وګوري چي وچه کله وي په هغه کي دژوند اثار نه ګوري ولي الله (ج) په هغه باران اوروي دځمکي دزړه لاندي دځمکي دسخت قشرلاندي دژونداثار وخوځیږي دژوند تخم اومایه په حرکت راځي.

په دغودواړو خبروالله (ج) استناد کوي اوفرمایي چي دایه دي خاطر چي الله همدي حق دي دا تغییراوتحول دادیو حالت نه بل حالت ته بدلون دانسان په پیدائښت کي هم له نطفي نه ترکمال ترمرحلي رسیدلوکي هم اویه دي ځمکه کي هم چي تاسو ګوري خرم نباتات راشنه کوي دا ټول ثابتوي چي الله (ج) حق دي .

اوداچي هغه مړه راژوندي کوي اوداچي هغه په مرګه قدیراوتوانادي اودا چي هغه دقیامت ټاکلي نیټه خامخا راتلونکي اوراسیدونکي ده اودا چي الله (ج) راپورته کوي هغه څه چي په قبرونوکي دي . په دغودواړو تحولاتو دانسان په ژوند اویه ځمکه کي دغه پټڅه خبري مرتب کیږي دا چي الله (ج) حق دي داچي هغه مړي ژوندي کوي داچي هغه په هر څه قدیراوتوانادي ،داچي دقیامت ورځ خامخا راتلونکي ده اوداچي الله (ج) به هغه څه چي په قبرونوکي وي بیا راژوندي کوي څوك چي په دي باورلري چي ددي مرګ نه بعد دوباره ژوندون به وي اودمرګ اودژوند فیصله الله(ج) کوي هغه به هیڅکله دمرګ نه ونه ویریږي . هغه به دمرګ ژوبلي په دوران کي مایوس نشي ناامیده به نشي داکافران دي چي هغه له مرګ نه ویریږي قرآن عظیم الشان داهل کتاب په هکله چي ګمراه شول خداي اوآخرت یې هیرکړ دهغوي په باب فرمایي چي :

هغو ته ووایه چي که په رښتیا اخرت مختص تاسو لره وي دنوروخلکونه پرته نوداله (ج) نه مرګ وغواړي باید دشهادت جذبه په تاسوکي نوي مړه شوي باید دمرګه نه ویریدلي ، باید دشهادت تمنا مودرلودلي که تاسو په اخرت یقین لري اوداموباوروي چي آخرت مختص تاسو لره دي دنوروخلکونه پرته نوولي دمرګ نه ویریږي نه به هغوي ترټولو خلکو په ژوند حریص وګوري هریودوي غواړي چي زرکاله عمرولري دمشرکانو دجملي نه هم ځیني وګوري چي په ژوندزیات حریص دي ،چي دمرګ نه ویره لري اوهریو غواړي زرکاله عمر ورته ورکړشي یاداچي داهل کتاب به تر مشرکینو نه هم زیات په ژوند حریص مومي ګوري داګمراه اهل کتا ب دي چي دژوند په نسبت حریص دي له مرګ نه ویریږي اوهریوغواړي چي به زرکونوکلونه ورته عمرورکړشي یامشرك عناصر . دمؤمنانو په باب خوقرآن همدغسي فرمایي : پیغمبر علیه السلام صحابه وته فرمایي تاسي وي چي دمرګ اودخداي پلاره کي مو دشهادت تمنا کوله یقیناً تاسو وي چي له دي د مخه مو دمرګ تمناکوله هغه مووليده . ورته کتل مو که داحد په جنګ کي ستاسو اویاکسه جلیل القدره صحابه په شهادت ورسیدل داخوستاسو تمناوه تاسو دخداي په لاره کي دشهادت تمناکوله یعني قرآن فرمایي چي داپیغمبر علیه السلام دپولو صابه و تمنا وه هغه پیغمبر چي مونږ په هغه ایمان لرو اویه خپله فرمایي چي په هغه ذات دي زما قسم وي چي زما روح اومرګ دهغه په اختیارکي دئ چي زه داخبره پیره غوره ګڼم چي دخداي په لاره کي په قتل ورسیږم بیاژوندي شم بیا په قتل ورسیږم بیاژوندي شم هغه دمکررشهادتونوتمنا لري .

هغه په یوشهادت اکتفا نه کوي بلکه هغه دخداي (ج) په لاره کي مکرر شهادتونه غواړي ته چي په کوم پیغمبرایمان لري دهغه لویه تمنا داده چي هغه دي مکرردخداي په لاره کي شهادت ومومي که څوك غواړي دپیغمبر علیه السلام مخلص امتي وي اودصحابه و په جمله کي دقیامت په ورځ حشر شي ،هغه باید د ي ته متوجه وي چي که هم دشهادت جذبه اوتمنا دهغه په زړه کي مړه نشي دژوند په نسبت حریص نشي که نه نوددي کاروان نه به وروسته پاتي شي بیا به ددي کاروان ملګرتیا شایستګي اواهلیت نلري هغه څوك دي په خپل ایمان وویریږي چي له مرګ نه ویریږي هغه قوم چي دمرګ نه ویریدلي الله (ج) په مرګ محکوم کړي یا دذلت اواسارت مرګ یا په دسته جمعي مرګ ودي نه لیدل هغه کسان چي دمرګ له ویري نه دخپل ملك نه ووتل په داسي حال کي چي هغوي په زرګونو وو ،شمیریې ښه پیر وو ولي دمرګ نه وویریدل .دمرګ له ویري نه هغوي خپل ملك پریښود اوفراریي وکړ ،وتښتیدل په ځاي ددي چي د دښمن مقابله وکړي برعکس دمرګ له ویري هغوي خپل وطن دښمن ته پریښود څوك چي د مرګ له ویري تښتیدلي دهغوي په باب الله څه فیصله کوي ومري په مرګ محکوم شوي بې څوك چي له مرګ نه نه ویریږي هغه ته خداي پاك ژوند وریه برخه کوي اودعزت ژوند .هغه که مري هم داالله په نزد هغه ژوندي وي هغه نه مري ، دهغه په هکله به ګمان نه کوي چي مړشوي هغه ژوند ي دي .

هغه په دي خپل مرګ راضي دي ، نوروته همدي وایي چي په دي لاره کي نه خوف شته اونه هم هغه دخداي (ج) په فضل او بیرزویني راضي اوخوشحاله دي او په دي باندي پاپه اومطمین دي چي الله دمؤمنانو اجر اوپاداش نه ضایع کوي .

ورونو ! موږ پیره قرباني ورکړه یونیم ملیون شهیدان ، دشهیدانو سلسله لاروانه ده .

هره ورځ همدغسي سترستر شخصیتونه قرباني کوو دخداي په لاره کي په شهادت رسیږي اوس مونږ په اخري پړاوکي یودوروستي برې په وروستي درشل کي الله(ج) داسي حالت راوستلي چي یو ځل بیا دمجاهدینو په صفوفوکي تصفیه اوتجزیه وشي الله (ج) دخپلي لاري مخلص مجاهدین ددروغجنو نه بیل کړي هغه چي دخداي (ج) لپاره جهاد کوي هدف یې دالله (ج) رضا ده ،دملك آزادي ،داسلام کلمه اوچتول اویه افغانستان کي اسلامي حکومت قائمول ددي لپاره یې ملاتړلي دامجاهدین دهغو دروغجنو اوریاکارونه چي شرائطو مجبورکړي دمجاهدینو په صفوفو کي یې ومرولي له هغو نه بیل کړي حالات هم دغسي دي ګوري دځیني په څیرو اوسیماکي ستومانتیا ناامیدي سازش شکوه اوشکایت ښکاري چي ګویا مستقبل ورته کاملاً مغشوش دي دآینده په نسبت هیڅ امید نه لري اخلاق یې بدل شوي دي روحیه یې بدله شوي تعلقات یې دخپل صف اوتنظیم سره تضعیف شوي مینه اومحبت یې دخپل مجاهد وروسره په عداوت اوکینه او نفرت بدل شوي ځیني داسي وي چي ایمان اوعقیدي یې دي صف ته ندي داوري .ګمان یې کاوه چي دمجاهدینو فتح اوبیروزي حتمي ده سفرلنډدي کامیابي نژدي ده مجاهدین به حتماً یري ترلاسه کوي رژیم به نسکوریږي دمجاهدینو حکومت به جوړیږي دخه دباره دهغوي په ځنګ کي ونه دریږو، ولي دلته دامتیازاتونه برخمن نشول دمجاهدینو په ځنګ کي امکانات دي دآینده په نسبت طمع او امید نه دهغوي پیروزي یقیني ده په همدي خاطر دمجاهدینو په ځنګ کي ودریدل خواوس چي ګوري سفرطولاني شو اومزل لا مغشوش دي اومحرومیتونه دي موامري دي توطیې دي هغه داوږدي لاري

پرخم اوپیچ ابتلا شو ،ستړي اوستومانه دي دآینده په نسبت یې امیدواري ډیره سه ورکړي تردښمن نه هم هغه دتحریك اودصف اودمجاهدینو په نسبت بده مني لله الحمد ددغویه مقابل کي بل طرف پاپه دي ، په خداي بروسه اواعتماد لري ، په خپلي کامیابي باورلري خداي ځان ته کافي ګڼي ددښمن دتوطئونه نه ویریږي په دي یې باوردي چي خیرالماکرین خداي به دا ټولي توطئي شنډوي ،اوس هم هغه خپل جهاد ته امید واردي اوس هم هغه په خپل سنګرکي ټینګ ولاړدي ،وسله یې ځمکه نژدي دجهادنه پرته بلي لار ته امید نلري .

ورونو ! متاسفانه ځیني دغسي کسان چي شرائطو په دي جهاد تحمیل کړي همیشه دحکامو په ځنګ کي ودریدلي. نن شرائطو دمجاهدینوصف ته راوستلي مجاهدین په سنګرونوکي وینې ورکوي ،قرباني ورکوي ،دګولیو تریاران لاندي دخپلو مرجلو اوسنګرونو نه دفاع کوي ،خپلي سینې یې ددښمن دګولیو په وړاندي سپرکړي ،یویه بل پسي همسنګران په شهادت رسیږي . خودادي په ځاي چي دهغه تائید اوملاتړ وکړي هغه تشویق اوترغیب کړ ي اودهغه دجهاد ملاتړ وکړي برعکس دهغه په خلاف په توطئو اودسیسوکي ملوث دي .

دجهاد په خلاف تبلیغات کوي د وحدت مانع وي دجهاد په ځاي روغي اوجوړي اوددښمنانو ترمینځ سازشونه امید واردي .

نه یوازي دي نه طمع اوامیدلري بلکه په دي کي عملاً ملوث دي .

هغه بله ورځ له یو تنظیم نه یو تش په نامه مشرځینوکسانو نه پرینبو پرته له دي نه چي دادشرم خبره وګڼي اودهغه دافشا نه حیا ولري وایي چي ماتجیب نه خپل نماینده ګان لیږلي ،نجیب زمانماینده ګانوته اطمینان ورکړ چي ماته خوښ تاسو مشرسل په سلو کي قبول دي او زه اوس دي نتیجي ته رسیدلي یم چي دده په سرمسله حل کیدلی شي مخکي مي ګمان کولوچي کیدي شي ظاهرشاه راشي اوهغه دي دیواداري مشر په حیث ومنلي شي اویدي ترتیب داکشاله حل اوفیصل شي خواوس له دي نظر نه هم تیرشوي یم اوس دي نتیجي ته رسیدلي یم چي داستادولي مشرکولي شي چي راشي اوهغه داسي حکومت سمبال کي اویه دي ترتیب دامشکل حل شي هومتاسفانه چي تاسو لږ ناوخته شوي که موځلور میاشتي دمخه له ماسره دغسي خبري اتري شروع کړي وي نوزه تیاروم چي قدرت مي تاسو ته پریښودلي واي خواوس زماملګري دي نه تیارندي پوځ افسران اوزماملګري وایي چي اوس موترقدرت مند یو اوس دهري حملي اوتعرض دمقابلي توان لرو اوس مونږ دي نه تیار نه یوچي قدرت بل چاته ورکړو زه به بیاهم کوشش کوم چي داخپل ملګري راضي کړم زماالخوا مطمئن اوسیږه په ګیه په ددي کوشش کوو دجنګ له لاري مسئله نه حل کیږي په داسي حال کي چي زه تیاریم ستا مشر دراتلونکي حکومت دمشریه حیث ومنم نوجنګ دڅه لپاره. تاسي هم کوشش کوي مونږ به هم کوشش کوو تاسو دخپلوماجراجواوجنګجو عناصرومخه ونیسي مه پریږدي چي مزیدي ویني تویي شي اوزه به خپل ملګري دي ته قانع کوم چي ستا دمشرلپاره تنازل وکړي اودي ته تیارشي چي اقتداردهغه ته حواله شي اوهغه هم په دي خامه طمعه کي لویدلي ګمان کوي چي کیدي شي نجیب هغه ته اقتدار حواله کړي .

اودهمدي لپاره هغه دجهاد پرخلاف بیانات ورکوي دبي بي سي او صداي امریکا شیطانان یې هم استعمالوي اویو په بل پسي دهغه همدغسي مرکي خپروي چي ژه خویه کابل باندي دحملي طرفدارنه یم ،باید مزیدي ویني تویي نشي اوډروغې اوجوړي له لاري مسله حل اوفصل شي .

زه له نجیب سره هم خبرواترونه تیاریم اوداسلسله مي شروع کړي ده .

دروسانو سره هم خبرو اترونه تیاریم دا سلسله پیل شوي ده؟

او زه تیاریم روسیې ته هم سفروکړم

ګمان کوي چي نجیب په دي خبروکي مخلص دي اویه رښتیا دي نتیجي ته رسیدلي چي اقتدارهغه ته حواله کړي دي ته ندي متوجه چي نجیب غواړي دهغه دعقل سره لوبي وکړي.

هغه بنوروپه خلاف استعمال کړي هغه دوکه کي په خامه طمع کي یې واچوي اویه دي ترتیب دي دمجاهدینو په خلاف استعمال کړي دهغه په خوله دنجیب خبري دمجاهدینو په زړه اثروکړي شي بیا همدغه مشر نائب پرون په یوه جلسه کي دشپیتو اویا اتیا مجاهدینو اوقوماندانانو په مخکي وایي چي حزب اسلامي په کابل باندي دحملي پلان لري تاسي به په کلکه ددي مقابله کوي که دمقابلي توان نه لري نوصحیح ده له هغوي سره په شوري کانو کي شریك شي نوچي کله عملیات پیل کیږي نوتاسو په نیمه ګټه مخکي په دښمن انداخت کوي ترڅو هغه مسبوق شي ،اوتیاري ونیسي اویه دي ترتیب دا عملیات شنډ شي معلومه نده چي دهغه دا هدایت اوقیصله به څومره اثرولري دمجاهدینودکامیابي په وړاندي به څومره خنډشي څه اثر هم لري که نه دده دامجاهدین هم دده خبره اوري که نه که وایي وري هم ددي مجاهدینو له خولي څه جوړیږي اوکه نه .دا خبره خوبیږده شاید الله (ج) نه دا نده منظوره چي تریایه داکس دمجاهد په حیث پاته شي هغه هم دي ته نده متوجه ،ددي په نتیجه کي خپل ایمان خپله ټوله سابقه په خطرکي واچوي ،متاسفانه داحالت دي دمجاهدینو دلیکوله مینځ نه ځیني کسان دجهاد په خلاف په سازشونوکي ملوث دي ګمان کوي چي روس اوامریکا به وتوانیدلیشي دافغانستان دقضیي لپاره داسي لاردحل پیداکړي چي دهغه په ترڅ کي دوي ته په زړه پوري برخه په لاس ورشي هغه دي ته امیدوار دي چي روس اوامریکابه دافغانستان مسله حل کوي.

دمجاهدینو دلیکوله مینځ نه ځیني کسان دجهاد په خلاف په سازشونوکي ملوث دي ګمان کوي چي روس اوامریکا به وتوانیدلیشي دافغانستان دقضیي لپاره داسي لاردحل پیداکړي چي دهغه په ترڅ کي دوي ته په زړه پوري برخه په لاس ورشي هغه دي ته امیدوار دي چي روس اوامریکابه دافغانستان مسله حل کوي.

موږ دیوالي او وحدت لپاره طرح وړاندي کړي چي داسي یو حکومت جوړشي چي ټول جهادي قوتونه په هغه متفق شي په دغسي یو شوري باندي اتفاق راشي چي هغه دټول ملت نمایندګي کوي بیادا شوري راتلونکي حکومت اودملك لپاره اساسي قانون جوړکړي .

مونږ هغوي ته ویلي چي کومه طرح چي تاسي اعلان کړي وه دهمدي طرحي مطابق دي راتلونکي شوري جوړه شي ،مونږ دخپلو ټولوشرائطو نه تنازل کوو محلي شوري ګاني دي جوړي شي ،بیادي دغه محلي شوري ګاني محلي اداري جوړي کړي اوهم دي مرکزي شوري ته ولسوالي په نمایندګي افراد معرفي شي په دي ترتیب دي یوه لویه شوري جوړه شي دادي راتلونکي حکومت جوړکړي دا به د ملت په نمایندګي وي دملك دسرنوشت په هکله به فیصلې کوي ټول به دهغه په نسبت "التزام لرو ځینوتنظیمونوچي الله (ج) دي ورته اجر ورکړي په اخلاص سره دامنلي په پیروخبرومونږ توافق کړي موافقت نامه ترتیب شوي دا بعضا مرحلي ته رسیدلي.

او زموږ لا دمخه داتوقع وه چي په دي موافقت نامه امضا وشي اوټولي دنیا ته اعلان شي ، خودځینو معاذیرو په وجه داوځنډیده دا دټولو تنظیمونو دوحدت طرح ده په ضمني شکل دینګولو مشرانو ددي سره توافق کړي په ایران کي دمیشته ګوندو نمایندګي یوځا توافق کړي اوځلورونورو ګوندو ضمني اواصولي ټول توافق کړي .

ولي څه قدمونه باید اوچت شي ترڅو په دي موافقت نامي باندي امضاوشي ، په داسي حال کي چي داطرح دوحدت طرح ده دځلورو ګوندو دانتحاد طرح نه بلکه دټول ملت دټولو جهادي قوتو دټولو تنظیمونو دوحدت طرح ده مګرداسي ګوري چي ځیني ددي وحدت دهلوځلویه خلاف تبلیغات کوي ځیني خوداسي دي که تنظیمونه مختلف هم وي زمونږ په خلاف لګیادي تبلیغات کوي که هغه په خپل مینځونوکي کیني دوحدت لاس یو بل ته ورکوي بیا هم داتنظیمونه مونږ آرام نه پریږدي دوي دا وجیبه احیستي چي په هرصورت به دتنظیمونو په خلاف تبلیغات کوي اوس چي مونږ اختلافات حل کووادخپلو صفونو دیوالي هلي ځلي کوو اوهغه ته دبري لارلټوو غواړو داسي یو حکومت جوړشي چي په هغه حساب وشي اودملت دتائید وړوي .

مؤقت حکومت دسابق په شان نه ، موږویل چي په پیښور کي جلاوطن حکومت ته ضرورت نه لرو مونږ دملك په داخل کي حکومت ته ضرورت لرو خلکو ته منل لله الحمد اوس ټول دي نتیجي ته رسیدلي چي دحکومت دا "پراخ" اوسترسترو وزارتونه دسل ګونواوزرګونو ماموریتو سره اودلویولویومعاشونو سره دسترو سترو بلدنګونوسره دا زموږ مشکل نشي حل کولي دا ګناه ده ،ولي مونږ وزګارماموریتن استخدام کړو، مونږ خودملك په داخل کي حکومت ته ضرورت لرومونږ دافیصله کړي وه چي دیوي میاشتي په مینځ مینځ کي به په داخل دافغانستان کي داحکومت تاسیس کیږي دا حکومت خومشروطه په دي وو چي په شپږومیاشتوکي به انتخابات کیږي.

استعمار چي کومي ځیري جوړي کړي اوزموږ په قوم یې دمقدسو شخصیتونو په حیث منلي حال داچي هغوي داستعمارلپاره لارخلاصوله استعمارګوډاګیان و ددوي له لاري استعماریه دغوملکونوقبضه کړي . ددي نه بعد ان شاءالله زموږ ولس دنورو په لاس جوړشوو قیادتونو په ذریعه نشي دوکه کیدلي زموږ ملت به هغه قیادت مني چي ددوي له مینځ نه په سنګرونو کي را پورته شوي وي دجهاد په دوران کي زموږ ملت پیژندلي وي .

مشروط په دي وو چي دیوي میاشتي په مینځ مینځ کي به داخل ته دروسي داحکومت به جلاوطن نه وي دپیښاور په کرائي حویلیوکي به په سلهاو وزګار ماموریتن نه استخداموي چي دجهاد ټول امکانات به همدوي باندي مصرف شي دټول دغسي حکومت په نسبت په یوه ولسوالي کي دیوي مشترکي قضا اهمیت زیات دي دیوه ولسوالي ټاکل اودیوه علاقدار ټاکل دتعیناتولوکارزیات اهمیت لري مونږ خوهلته مشترکه اداروته ضرورت لرونه په پیښورکي لله الحمد اوس ګورو چي نورتنظیمونه هم دي نتیجي ته رسیدلي دي چي مونږ باید محدودوزارتونه چي ورته ضرورت لرو هغه دلته فعال کړومتبالي وزارتونه باید هلته فعال شي چي کابل دمجاهدینو په لاس فتح شي اوزمونږ حکومت په داخل کي تاسیس شي.

زه ورونو ته اطمینان ورکوم چي زمونږ ترمنځ په اصولي ټول په اکثرو اختلافي مسایلوتوافق شوي ترکومه ځایه چي په حزب اسلامي پوري مربوط دي مونږ دا موافقت نامه امضاکووهغه په نسبت التزام لرو، له نوروتنظیمونو نه موهم هیله او آرزو داده چي هغه هم په جرئت سره اقدام وکړي که ټول تنظیمونه نشي متحد کیدلي علي الاقل باید مؤثرجهادي قوتونه یوبل ته لاس ورکړي ددوي وحدت هم زمونږ اکثر مشکلات حل کوي دوروورو تنظیمونو نه زمونږ هیله داده چي کله موثرقوتونه یوبل ته دوروري اودوحدت لاس ورکوي هغوي مانع نشي خنډنشي ددوي ملاتړوکړي دهغه تائید وکړي همدا راز په دي خبره هم اصولي ټول توافق شوي چي باید یومشترك عسکري پلان ترکود ماتولو ،دقضیې دحل اوددي وضعي دپاي ته رسولو لپاره ترتیب شي اویه هغه توافق وشي .

لله الحمد په دي مشترك عسکري پلان هم توافق شوي ددي په ځاي چي مونږ پراګنده نامنظم اوخواره عملیات دلته هلته ترسره کوو ولي خپل ټول قوتونه دیوي قوماندي لاندي دیومشترك عسکري پلان په ترڅ کي درژیم داساسي اهدافو اودمهمومراکزویه خلاف سوق نکړو باوروکړي چي که مونږ کوم جنګونه چي تر په نامنظم اوپراګنده شکل کي بیان دي ددي ځلورمه برخه هم کابل ته توجه کړو نوکابل رژیم دهغه په وړاندي مقاومت نشي کولي زه له دي ناحیې نه هم مطمئن

(٦مخ)

ارشاد نبوي

حضرت ابوفسیله رض میگوید:
ازآنحضرت (صلي الله علیه وسلم) پرسیدم ،آیا باقـوم خود محبت داشتن تعصب است ؟
آنحضـرت(صلي الله علیه وسلم) فرمودند : نه ،بلکه تعصب آنست که انسان درمعامله ظلم ،ازقوم خودطرفداري نماید .
مشکواة شریف

روسي واکمنو پر مسلمانانو باندي دظلم په وجه بندیان د وسلي په زور افغانستان ته لیږل

روښي بندي

کراچي : نظي ۱۳ مه
دجمعې په ورځ په کراچي کي دروسي الوتکي له تښتونکو څخه یوه په زندان کي خپل ځان غرغره کي ،نوموړي په یوه لیک کي چي له ځان وژني مخکي یې لیکلي ، ویلي چي داسي فکرکوي چي پاکستاني مقامات به یې روسي ته وسپاري په دې سبب دروسي له وحشتناکو زندانونوڅخه ځان وژنه بهتره ګڼي .
هغه په خپل لیک کي دا څرګندونه هم کړیده چي روسي ظالمواکمنو روسي بندیان دوسلي په زور افغانستان ته لیږل تر څو هلته افغانان ووژني هغه زیاتوي که به چا له دې څخه دوه کوله نو په ګولیو به وژل کیدل .
دکراچي پولیس وایي چي دروسي الوتکي له یوولسو زنداني تښتوونکو څخه یوه یې انیګرسلوف چي ۲٦ کلن و درجایي
په واسطه دزندان له دروازي سره ځان ځړولي اوغرغره کړي یې دي. پولیس زیاتوي چي دغه تښتوونکي په روسي ژبه یولیک هم لیکلي په هغه کي لیکل شوي چي هغه په روسیه کي په ناکړي ګناه سزالیدله روسي واکمنو پرهغه باندي پیرظلمونه کول . دهمدي ظلمونه نه دځان خلاصوني په غرض یې الوتکه وتښتوله ،هغه زیاتوي روسي واکمنو بندیان دوسلي په زور افغانستان او نورځایو ته لیږل ترڅو هلته پرخلکوظلمونه وکړي ،که به چا داکار نه کولو نووژل کیدل به هغه زیاتوي . موږ چي الوتکه پاکستان ته راوتښتوله هیله مودرلوده چي پاکستان به سیاسي پناه راکړي ،خوفغوي دسیاسي پناه په ځاي زنداني کړو دیوه زندان څخه دخلاصون په خاطر بل زندان ته له تللو نه داغوره ده چي دزنداني ژوند څخه ځان خلاص کړو.

نماینده روسیه ملاقاتش راباصدام رضایت بخش خواند

بغداد : ۱۵ میزان.
روز شنبه فرستادۀ ګورباچف به بغداد اظهارنموده است که وي بعد ازملاقات با صدام حسین ودیګر سران عراق درمورد حل وفصل صلح آمیز بحران خلیج خیلي خوشبین است . پرایمیکوف بعد ازملاقات دوروزه باسران عراقي حین بازګشت به روسیه درمیدان هوایي به خبرنګاران ګفت من درمورد حل سیاسي مسئله خلیج تردیدي ندارم اماوي اظهارنکرد که چه عوامل باعث تغیر نظروي درینمورد ګردیده است . همچنان وي اضافه نمود که من از ملاقات خودباصدام حسین وطارق عزیز وزیر خارجه عراق خورسند مي باشم .

له وي پي سنګه نه دجنتادل ګوند (۲۹) غړي داستعفي غوښتنه کوي

جنګ لاهور:
دهندواکمن جنتادل ګوند ۲۹ غړي له صدراعظم وي ، پي ، سنګ نه غوښتنه کوي چي دواکمني نه لاس واخلي. دهند دپارلمان دوه ویشتو اوهمشرانو جرګي اوونتو غړو صدراعظم ته په یوه لیک کي ویلي چي پرهغه باندي اوس دعوامو اعتماد ختم شوي ، او دحکومتي کارونو مختلفو څانګوکي له ماتي سره مخامخ دي ، نوپه همدي وجه لازمه ده چي وي ، پي سنګ دصدارت له چوکي څخه استعفي وکړي پریږدي چي پارلمان بل څوک ددي چوکي لپاره وټاکي .

دهندوانو دوحشت له امله ۳۰۰ مسلمانان په شهادت ورسیدل

نوي دیلي :
په هند کي مسلمان وژونکي اخ وډبونه روان دي ، دڅینو اطلاعاتو له مخي په تیروڅوورځوکي په دغه اخ وډبونو کي دمتعصبوهندوانو دوحشت له امله دهند په مختلفو ځایوکي ۳۰۰ تنه مسلمانان په شهادت رسیدلي دي .
دهند په پارلمان کي داترپردیش یوه پخواني اعلي وزیر ویلي دي چي واقعیت دادي چي په اترپردیش کي ۳۰۰ تنه وژل شوي چي په هغو کي څیني په کلیو کي ژوندي سوځول شویدي دپارلمان څینو غړو ویلي چي دغه اخ ودب هغه وخت زیات توندوالي پیداکړچي د متعصبو هندوانو دتنظیم بي جي پي مشر ایدواني درام درمسال جوړوني لپاره پلي سفرونه پیل اوهندوان یې دمسلمانانو پرخلاف راوپارول . دغه سفریه دري اونۍ اوږدیږي اوهندوان عقیده لري چي د اکتوبر په دیرشمه به دبابري جومات په ځاي درام درمسال جوړیږي .
دخبري منابعو په حواله ویل کیږي چي دغه فسادونه دهند په کرناټک راجستان اوګجرات کي ډیر شدید دي اوهمدااوس هم روان دي .

دبي وزګي اعلان

نورمحمد دعاشور محمد زوي دپروان ولایت دپنجشیر ولسوالي داولي حصي علاقداري دپشغور کلي اوسیدونکي چي ۲۳ کلن هلك دي دیوه کال په اوږدوکي ورك شوي که هرچاته په وي پدي پته داحوال ورکړي
حزب اسلامي افغانستان دارشادوفرهنګ، ریاست پشاور ، چمکني تیلفون نمبر (٦۳۷۸۹-۳۰۲۲٤)

اعلان فاتحه

ریاست تخطیط وتنظیم حزب اسلامي افغانستان بخاطراتحاف دعا به ارواح مطهر آنعده قوماندمان ومجاهدیني که اخیراً درسنګرهاي خونین جهاد به شهادت رسیده اند ، مخصوصاً "زاهد ابراهیمي" وهمرزمانش روزجمعه ۲۰ میزان ساعت ۹ - ۱۲ درمسجد جامع نصرت مینه برګزارمي نماید .
ازعموم برادران مجاهد ، مهاجر وانصار تقاضا میګردد تا با اشتراك خویش درین محفل روح شهدا را خوشنود ګردنند . روحش شاد یادش ګرامي باد

دنوم بدلول :
مجاهدورور غلام حضرت دمحمدهاشم زوي دکندزولایت دبنه کشان کلي اوسیدونکي چي اوس خپله زده کره دابوبکر صدیق (رض) په معهد کي ترسره کوي خپل نوم یې صدیق الله باندي بدل کړي له دوستانو څخه هیله کوي چي نوموړي ورور دصدیق الله په نوم وپیژني . په درښت

موږ دمجاهدینو اتحاد ته امیدواریو

خبریال محمدیار

وحیدالله صباون

دحزب اسلامي افغانستان دنظامي ریاست دویم موسټیال انجنیروحیدالله "سباوون" دشهادت له خبریال سره په یوه ځانګړي مرکه کي دافغانستان په روانه نظامي وضعه رڼا واچوله اووي ویل : دروان کال په جریان کي مجاهدینو زیاتي فتحي کړي، پرمخ روان دي ، هره ورځ اوهره ګړي دکابل دررژیم ساحه تنګیږي خلك اواولس اوس دکابل له رژیم نه کرکه لري ، دررژیم عسکریه یوځاي کي هم دپنګي ځاي نه لري ، یوازي دروسي وسلویه زور تراوسه په نیم ژواندي حالت پاتي دي ، امید دي چي ژرترژره به دنجیب رژیم دمجاهدینو په لاسو ماتي وخوري .
انجنیروحیدالله دیوي بلي پوښتني په ځواب کي وویل : دکابل رژیم دژرترژره نسکورولو لپاره مجاهدین ګډ عملیاتي پلانونه په نظرکي لري، چي په تدریجي شکل سره به عملي کیږي . په دغه عملیاتي پلانونوکي دلویولاروبندول ، ددښمن په لویو نظامي مرکزونو باندي عملیات سختول ، له ورواو پراګنده عملیاتو څخه ډډه کول، دلویو ښارومحاصره اونور... شامل دي .
انجنیر وحیدالله ددي پوښتني په ځواب کي چي دنوروتنظیمو سره داتحاد خبري ترکومه حده رسیدلي ، وویل> اوسني اتحادته زموږ هیله زیاته ده ، داتحاد په رهبرانو اومجاهدینو باندي تحمیلي شکل نلري بلکي دجهاد رهبرانو ددي کارلپاره ملاتړلي، پدي لارکي یې دیام ورقدمونه هم اوچت کړي، په زیاتو برخو کي بشپړ توافق ته رسیدلي دي، امیددي چي نن سبا به توافقات امضاشي اوموږ به داتحاد له تفصیل نه خبرشو .
په کابل باندي دعملیاتو په اړه وروروحیدالله وویل: حزب اسلامي غوښتل چي دکابل پررژیم یومرګوني ګوزاروکړي اوپراخ اومنظم عملیات پري پیل کړي چي دنجیب رژیم ختم شي . ددي کارلپاره حزب اسلامي په اکمالاتو پیل وکړ، همدارازیریکړه یې وکړه چي د نوروتنظیمو له مجاهدینوسره هم خبري وکړي چي په دښمن باندي ګډعملیات ترسره کړي ، له همدي امله خبري پیل شوي اوزیات تنظیمو نه دګډواومنظمو عملیاتو لپاره تیارشول، ان شاء الله موږ امیدلروچي داکاریه ګټوري نتیجي ولري .
انجنیر وحیدالله سباوون په افغانستان کي دانتخاباتو په هکله وویل داکارممکن اومفیدي دي په افغانستان کي دمحداسمي ټاکنی په اساس انتخابات پیرمشکلات راکمولي شي ، هغه دکونړولایت انتخاباتو ته ګوته ونیوله ، وې ویل ، څیني خلکو انتخابات ناممکن ګڼل خوموږ وابدل چي په کونړکي په پیره آرامه اوسوله ایزه فضاکي انتخابات ترسره شول اوټولو تنظیمونویکي برخه واخستله .پدي اساس ویلاي شوچي په ټول افغانستان کي هم انتخابات ممکن دي په دي شرط چي دجهادمشران دهغو دنتائجومنلوته تیاروي . په آخرکي هغه وویل چي په هرصورت زموږ مسئله به په جهاد حل کیږي اوهمدا جهاد دي چي زموږ سرنوشت به ټاکي

دشهید زاهدابراهیمي وروستي دیدار

دحزب اسلامي

دترلاسه شویو خبرونو له مخي : شهید مجاهد ورور زاهد ابراهیمي اویوشمیر ورسره قوماندانان دظفر غونډ له مرکز نه دروداتو دولسوالي دمزیني دسیمي په دوهم سنګرکي دشهید غلام حیدرمرکز ته دمیزان په ۱٤ ماښام ورسیدل .
زموږ دغو په دین مینو مجاهدینو ویرږد له دي امله چي ملحد دښمن په دغو سیموکي دغلچکیواوظالمانه بریدونو پلان درلود خپله جهادي شورا دایره کړه اودهغي په ترڅ کي یې دملحد دښمن پرضد دجهادي عملیاتو پریلان پروګرام مشوري کولي په دي شورا کي دحزب اسلامي دننګرهار ولایت دجهاد امیر اوظفر غونډ قوماندان زړور اوميړني ورور شهید مجاهد (فضل الربي) زاهد ابراهیمي مجاهد واوقهرمانانو قوماندانانو دظفرغونډ دنوي کندك نظامي مسئول شهید غلام حیدر ،شهید شینك ، دشینو ، شهید ماموریسي ، شهیدحاجي ببرك ، دظفر غنډ نوخي کندك آمرشهید حاجي نوشیرخان ،شهید اول جان ،شهید دیوانه اوشهید سیدحکیم برخه درلوده .
خبرزیاتوي په دي وخت کي ملحد دښمن یوځل بیاپرنوموړي سیمي باندي ددرنووسلوپه چلولوخپل خاینانه او ظالمانه اعمال تکرارکړل چي له بده مرغه ددغو وسلو څو توغندي دشهید غلام حیدرپرمرکز باندي راوپرېوتل شول اوله همدغه امله دعیني شاهدانو له خولي په شوراکي دراټولو شویو قهرمانانو خبري وانه وریدل شوي .
عیني شاهدان څرګند وي زموږ مجاهد ورونه دیرژر دشورا محل ته ورسیدل خوزموږ دجهاد اتلانو دشهادت جامونه څښلي وویل کیږي چي ورور شهید زاهد صاحب ترلږوخته ژوندي ژ خوږروسته یې ساه ورکړه اوبه دي توګه یې د پیل شوي اسلامي جهاد ارمان دشهادت دمقام په ګټلو ترسره کړ.
په صوبه سرحد کي دافغاني مهاجروکمپونو ته ددغو جهادي شخصیتونو دشهادت د اوازو او جنازویه رارسیدلوسره زموږ مهاجرو، مجاهدو اوانصارو ورونو دغواتلانو ته د وروستي دیدن اولیدنو له پاره دهغوي کورونوته ځانونه ورسول ، زموږ خبریال لیکي : زموږ مجاهدو مهاجرو اوانصارو ورونو داسلامي وروګولي په ولولو کي دشهیدانو درناوي وکړ اودوروولي داحساساتو په څپوکي یې ددو ماګانوپه شور ،څوږ اوداوښکو په بهرګه کولو سره هغوي ته دلاړیاتو اجرونو غوښتنه وکړه .
دشهید زاهد ابراهیمي، شهید غلام حیدر، شهید حاجي نوشیرخان اوشهید سیدحکیم جان دجنازو لونګونه په نصرت مینه اوکچه ګړي کي دافغانستان دحزب اسلامي داامیر ورور انجنیر حکمتیار په امامت سره اوشول اوزموږ دنورو شهیدو قوماندانانو دجنازي لونځ اومراسم په لواړګي ،ناصرباغ ،څنګلي اوصده کي ادا اوبرګاي شول ‹
زموږ ددغو اتلو شهیدانو دجنازو په مراسمو کي په زرګونو تنو مجاهدو ،مهاجرو اوانصارو ورونو ګډون درلود چي په هغویکي له ورور انجنیرحکمتیار سربیره دافغانستان داسلامي حزب مشر مولویصاحب محمد یونس خالص ،مرستیال یې حاجي صاحب دین محمد ، ددغه تنظیم نورو مشرانو اوغړیو ،قاضي محمد امین وقاد ،دجمعیت اسلامي دمشر نایب سیدنوراله عماد ،داتحاد اسلامي دمشرنائب غړیو اودنورو تنظیمونو مجاهدینو اودجهادي سنګرونوقوماندانانو دشهیدانو دوستانو اوخپلوانو برخه درلوده
دجنازو دلمانځه ترادا کولو وروسته دافغانستان دحزب اسلامي امیرمجاهد ورور انجنیرحکمتیار دنصرت مینې په جامع جومات او وروسته په کچه ګړي کي زموږددغوشهیدانو داتلو الیو جهادي شخصیتونو ،سرښندنو اوله ځانه تیریدنو په باب دغراوخبرو خبرویه ترڅ کي داسلامي جهاد دروانو چارو دښه سمون له پاره داتحاد اواتفاق دښیګڼو په څرنګوالي په زره پوري معلومات ورکړل ‹
زموږ خبریال زیاتوي چي دشهید زاهدابراهیمي دجنازي دځښولو نه وروسته مولوي خالص صاحب دشهید زاهد ابراهیمي دجهادي شخصیت اواتلوالیو اودشهادت د مقام خبري وکړي
زموږ ددغوشهیدانو وروڼو جنازي داسلامي اخوت دوروولي اوهمدردي په ولولو اوڅپوکي د لوي خداي (ج) له دربار نه دهغوي کورنیو ،مجاهدینو ، اومهاجرینو ته دصبرجمیل دغوښتنو په شوراوځوږکي خاورونه وسپارل شوي . موږ دشهادت دغه لوړ مقام اودرجاتوته دځېلو شهیدو قهرمانانو رسیدل خپل مجاهد ،مهاجر اومسلمان ملت ته مبارك وایو اوله بي نیازه څښتن څخه دهغوي دوینو په بدل کي داسلامي افغانستان له پاره داسلامي نظام دراکولو اوجوړولو پیرزوینه غواړو.
روح یې ښاد یاد یې تازه ، ویاړیې تلپاتي اودلاري یې یې . دي روښانه وي دجنازي په دغومراسموکي دورور حکمتیار وینا په همدي ګڼه کي خپره شویده .

شهید زاهد ابراهیمي دوروستي منزل په لور

دفاتحې اعلان

دحزب اسلامي افغانستان دننګرهار ولایت دجهاد عمومي امیر اودحزب اسلامي دمرکزي شوري غړي شهید قوماندان فضل الربي "زاهدابراهیمي" سپیڅلي روح ته ددعاپه خاطر دشهید دوړور ډاکترفضل محمد، تره حاجي نیك محمد ، ماما الحاج محمدعباس خان اوشهیدکورنۍ له خوا دنصرت میني په جامع جومات کي فاتحه اخستل کیږي .
ټولو مجاهدو، مهاجرواوانصاروورونو ته خبروروکوي چي دمیزان دمیاشتي په ۲۳ نیټه دوشنبې په ورځ دنصرت میني جامع جومات ته په راتلو سره دشهید روح خوشحاله کړي.

***

تبدیلي نام

عبدالمعروف حنیفي ولد عبدالشهید مسکونه ولسوالي پلخمري ولایت بغلان فعلاً متعلم صنف دوازدهم لیسه سیدجمال الدین افغان اسم خویش را به صهیب حنیفي تبدیل نموده است .
ازدوستان واقارب خویش آرزو منداست که وي را به اسم جدیدش بشناسند .

شهادت
بیانګرعقاید وآرمان هاي حزب اسلامي افغانستان
موسس : انجنیر حکمتیار
صاحب امتیاز : حزب اسلامي افغانستان
ناشـــــر: ریاست ارشاد وفرهنګ
ســال تاســیس : ۱۳۵۷ هجري شمسي
تحت نظرهیئت تحریر

موساد کانادايي پاسپورتونه استعمالوي

وکتر
اوتاوا :
وکټر لوستراسکي داسرائیلي جاسوسي اداري موساد جاسوس اودکاناډا تبعه دي ، هغه په خپل کتاب کي ددغي وحشي اداري نه پرده پورته کوي لیکي چي دغه موسسه د کاناډایي پاسپورتونه په ذریعه خپل فعالیت پرمخ بیایي . که څه هم اسرائیلو زیات کوشش وکړچي دغه کتاب له خپراوي نه بندکړي خوبیاهم کتاب چاپ شو. په کتاب کي لیکل شوي چي کاناډایي پاسپورت ډیرساده دي نو په همدي سبب دغي اداري وکړي شول چي ترزړو زیات پاسپورتونه غلاکړي جاسوس وایي اوس چي داسرائیل جاسوسي شبکه دنړي په کومه برخه کي وغواړي جاسوسي فعالیت وکړي نو دکاناډایي پاسپورت نه استفاده کوي .
څلویښت کلن وکټرلوستراسکي له ۱۹۸٤ تر ۱۹۸٦ کال پوري دموسادلپاره کارکړي ، هغه دکاناډایي پاسپورت داستعمال په هکله حیرانوونکي خبري کوي ، لیکي چي موساد یوه کیمیاوي تجربوي کارخانه لري چي هلته دپاسپورت کاغذجوړیږي ، دکیمیا متخصص داصلي پاسپورت کاغذ تجزیه کوي اودهغي مطابق دجعلي پاسپورت کاغذجوړوي . همداراز موسادیو وکاروکي موساد له کاناډایي اتباعو څخه لوی کتابتون هم لري چي هلته دګڼوهیوادو، ښاروالوا چي دولسوالیویه سطح پاسپورتونه موجوددي ، سربیره پر هغه دنورو هیوادو دپاسپورټو مهرونه اونوراوازم هم شته چي موسادیي دضرورت مطابق استعمالوي.
دملګروملتو دسولي په پوځ کي دکاناډا څیني عسکر داسرائیلو جاسوسان دي .
اسرائیل دخپل سترملګري هیواد امریکا پرخلاف هم جاسوسي کوي .
موساد تقریباً اوه زره غړي لري چي دجاسوسي کارلپاره دمرستي لپاره دضرورت په وخت کي لندن ته غوښتل کیږي .
له موساد سره داروپا دټولو لویو هوټلو ماسترکلیګاني شته
موساددعراق پراټومي بټي باندي دحملي کولو لپاره پر ۷.۷ پوله الوتکه باندي دایرلنهرنګ اوټاپه ووهله .
دموساد ترټولو نه داعتمادوړ څري دکاناډایو صاحب منصب دي چي دسوریي له سرحد سره نږدي په ټاهریا کي اوسي چي دغه افسر په سوریه کي دموساد دجاسوسانو پیغام اسرائیلو ته رسوي ، هغه دضرورت له مخي اسرائیلو اوسوریي ته تلاي راتلاي شي دي ته ورته په لویر خخه
په کتاب کي دموساد دداسي مهم څري څخه هم پرده پورته شوي چي دډیروعالي کامرو پواسطه دلوړرتبه مامورینو عکسونه له فاحشوسره جوړوي اوبیا هغه بلیك میل کوي .
موساد په امریکا کي هم څري لري ، هغه امریکا دځان لپاره دلوبي بګربولي ، دغه څري په واشنګټن اونیویارك کي زیات فعالیت کوي اویه یوه مهمه جاسوسي اداره پوري تړلي دي .
په کال ۱۹۸۳ باندي په بیروت کي پرامریکا یې اوفرانسوي عسکرو باندي دبمباري مسئولیت هم دموساد پرغاړه دي کوم چي ۲۹۹ خلك پکي مړه شول څکه چي له بمباري وروسته دموساد مرکزي دفترد آرامي ساه واخسته .

یك عضو کا،جي

کارد خاص اسیرګردید تحت بازرسي قراردارد
موصوف اقرارنموده که شش ونیم سال درشوروي تعلیمات الحادي رافرا ګرفته است .
۳- به تاریخ ۳ سنبله حین حمله به داخل شهرغزني یکنفر ازملیشه هاي سرشناس به کیفر اعمالش رسید ویکمیل سلاح به غنیمت ګرفته شد .
٤- به تاریخ ۱٤ سنبله یکعراده تانك زرهدار رژیم هدف آتش رزمندګان اسلام قرارګرفته معه سرنشینانش طعمه حریق ګردید .

دکابل دامنیتي

دیوه بل خبرله مخي دایتار لښکر تومبالیو غازیانو دروان کال دتلي دمیاشتي په ۹ مه نیټه دشیرواژه سیمه مین کاري کړه چي په نتیجه کي یوزغروال ټانك منفجر اویکي سپاره کمونستان ووژل شول همدارنګه دروان کال دتلي دمیاشتي په ۸ مه نیټه دکمونست رژیم هوائي قواووسرخ آب سیمه ترسختو بمباریو لاندي ونیوه چي ګڼ شمیر کورونه ویجاړ اویاغونه وسوځول شول اونوروته ځاني تاوان ندي رسیدلي .

فیصله نامه

قوماندانان برجسته دست هم دیګر را ګرفته آشتي اطمینانی اظهار کردند وجهت تطبیق موادات فوق سوګندو دستخط قرارنکریم نمودند
قرارشرح فوق هشت قلم مواد مندرجه فیصله ان شاءالله سرافرازدا درحصه عملي نمودن آن اقدام عملي خواهد شد

پوست بکس (۱۰۰۲۸)
یونیورسټي ټاون پشاور
تلفن نمبر ٦۳۷۸۹ -
30224 پشاور

فرانسوي پوځ دعراق پولوته ورسید

نیوتم دتلي ۱۳ مه :
فرانسوي جنګي ټولګي یوپه بل پسي دسعودي دښتي طي کوي او دجګړي محاذته ځانونه نږدي کوي دفرانسوي پوځ قوماندان جنرال جین چارلس وایي چي موږعراقي سرحدته ډیرنږدي شوي یواوس زموږ اوعراقي پوځ ترمنځ یوازي څو سرحدي کلي حائل دي . دغه پوځي ټولګي له سري بحیري څخه ترعراقي پولوپوري ۱۰۰ کیلومتره واټن په دریو ورځوکي ووهه او اصلي ځاي ته ورسیدل . په نتیجه کي ، سعودي مصري ، سوریایي اونور عربي پوځونه ځاي په ځاي شوي .
چارلس وایي زه په خپل پوځونه همیشه په حرکت کي ساتم اوداصلي خلکو په شان به ځان جوړوم . کیداي شي چي سبا به زه دلته نه یم

ورك شوي، پیداشوي دي

دکندهارولایت دارغنداب دولسوالي اوسیدونکي امین الله دحبیب الله زوي چي دعصبي ناروغي له امله څه موده دمخه ناورکه شوي ژ اوس دننګرهار ولایت درواتو دیږو په سیمي کي پیداشوي اویه شینکي زیارت کي اوسیږي
دوستانو ته یې خبر ورکول کیږي چي په بادي شوي پتي باندي دامین الله پوښتنه وکړي .

به اساس ګذارش رویتر ،عساکر عراقي باقطع نمودن آب وبرق به سفارت خانه ایتالیا درکویت علیه سفیرآنکشور فشارمیآورند تاخاك کویت راترك ګوید

دا اسرائیلي

غاصبویهودي واکمنو داخبره منلي چي دوي د پولیسودډزوله امله ترشلوزیات فلسطیني عبادت کوونکي وژل شوي ، هغه وایي چي ددي عبادتځاي څنګ ته زیات شمیر یهودیان دویردیوال نومي ځاي ته چي دیهودو مقدس ځاي دي رتلول شوي و، مسلمانانو پریهودو اوپولیسو باندي چي دغه سیمه ئي دامنیتي لحاظ محاصره کړي وه حمله وکړه اوترشلو زیات یهودیان یې دتیږو اوا وسپنو په ویشتلو ټپیان کړل، پولیس مجبور شول چي خلکو دټپیانو لپاره له وسلي څخه کارواخلي .
خومیني شاهدان عقیده لري چي حمله لومړي دمتعصبو یهودواودهغوي دحامي پولیسو له خواپیل شوه .